# د پناه غوښتنې مرکې لپاره تیاري

**مرکې څخه مخکې**

- **هغه اسناد چې ځان سره یې راوړئ.** لاندې هغه اسناد چې مرکې ته یې باید راوړئ، چمتو کړئ:
  - د مرکې خبرتیا چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدمتونو اداري USCIS له خوا مو ترلاسه کړې ده
  - د Form I-589 فورمې یو نقل چې د پناه غوښتنې غوښتنلیک بلل کیږي، او همداراز د نورو هغو اسنادو یو نقل چې مخکې مو USCIS ته لیږلي وو
  - ټول هغه پاسپورتونه چې تراوسه مو لرلي دي (حتی منقضی شوي پاسپورتونه)
  - د کار جواز (که چیرې موجود وي)
  - هغه ویزې چې متحده ایالاتو ته د ننوتلو لپاره مو کارولي دي (د بیلګې په توګه "MICA" یا "BCC"، I-94 او I-512 سند "د لنډمهال مسافرت سند"، که چیرې د اجرا وړ وي)
  - نور انځورلرونکي کارتونه (لکه معتبر پاسپورت یا د موټرچلولو لایسنس)
  - د زیږیدنې د تایید شوي تصدیق اصلي نقل، که چیرې موجود وي
  - د نکاح خط یو تصدیق شوی اصلي نقل، که چیرې د اجرا وړ وي
  - د ماشومانو د زیږیدنې تصدیق شویو تصدیق پاڼو اصلي نسخې، که چیرې موجودې وي
  - افغاني تذکره، که چیرې موجوده وي
- **په غوښتنلیک کې بدلونونه او اضافات:** که چیرې ستاسو د ټیلفون شمیره، آدرس یا دنده بدله شوې وي، او یا که چیرې تاسو غواړئ په خپل غوښتنلیک کې یو څه بدل یا اضافه کړئ، همدا معلومات هم له ځان سره راوړئ.
- **د کوید-۱۹ د موقت قانون له امله، ژباړونکی د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدمتونو اداري *USCIS* له خوا ګومارل کیږي:** که چیرې تاسو په انګلیسي ژبه نه غږیږئ، د پناه غوښتنې د چارو دفتر به ستاسو مرکې لپاره وړیا ژباړونکی ګوماري.

**د مرکې په ورځ:**

- **مرکې ته حاضریدل:** د مرکې له ټاکل شوي وخت څخه ۳۰ دقیقې مخکې د کډوالۍ چارو اداري ته په هغه ادرس کې حاضر شئ چې د مرکې د خبرتیا په پاڼه کې ذکر شوی دی. رسیدو سره سم، مسوول شخص ته ورشئ او خپل نوم ولیکئ. په یاد ولرئ چې مرکه له ۱.۵ ساعت څخه تر ۵ ساعتونو دوام کوي. مهرباني وکړئ اوبه او خوراکي توکي له ځان سره راوړئ ځکه چې تاسو ډیرې مودې لپاره په دفتر کې پاتې کیږئ.
- **مرکې ته د نورو کسانو ملتیا:** د کوید-۱۹ له امله، په مجموع کې، تاسو نشئ کولی چې مرکې ته نور کسان له ځان سره راولئ. هیله کوو ماسک واغوندئ او د کوید-۱۹ واکسین کارت که لرئ، له ځان سره راوړئ.
  - <u>که چیرې ستاسو میرمن یا خاوند او ماشومان ستاسو د غوښتنلیک پر بنسټ د پناه غوښتنې غوښتنلیک لري:</u> د کډوالۍ قوانین دا لازمه ګڼي چې ستاسو میرمن یا خاوند او ماشومان چې د پناه غوښتونکي دي، تاسو سره په دې مرکه کې ګډون وکړي. هیله کوو خپلې میرمن یا خاوند او ماشومانو ته خبر ورکړئ چې خپل د پیژندنې معتبر کارتونه او د غوښتنلیک اړوند پورتني اسناد له ځان سره راوړي.

**د مرکې په جریان کې:**

- **سوګند:** د مرکې په پیل کې به د پناه غوښتنې د چارو کارکوونکی له تاسو څخه غواړي چې خپل لاس پورته کړئ او سوګند یاد کړئ چې رښتیا به وایئ. د پناه غوښتنې د چارو کارکوونکی به ستاسو د پیژندنې کارت او نور اسناد ګوري. په یاد ولرئ چې د پناه غوښتنې د چارو کارکوونکي ته دروغ ویل جرم ګڼل کیږي، نوځکه دا ډیره مهمه ده چې هرې پوښتنې ته صادقانه ځواب ورکړئ.
- **له ژباړونکي څخه استفاده کول:** دا ډیره مهمه ده چې تاسو د خبرو کولو پرمهال لنډ عبارات وکاروئ او دم تر دم په خبروکولو کې دمه وکړئ ترڅو ژباړونکی وکولی شي ټول هغه څه چې تاسو یې وایئ، په بشپړه توګه وژباړي. همداراز، مهمه ده ترڅو صبر وکړئ چې ژباړونکی خپله ژباړه بشپړه کړي، او تاسو باید د مرکې په جریان کې په خپله مورنۍ ژبه خبرې وکړئ. د ژباړونکي خطا ته د متوجه کیدو سره سم د پناه غوښتنې چارواکی خبر کړئ.
- **د اعتبارورتوب:** د پناه غوښتنې په هر کیس کې، مهمه ده ترڅو د پناه غوښتنې چارواکی ستاسو پر صداقت او رښتینوالي معتقد شي، او تاسو هڅه مه کوئ چې خپل کیس له اصلي حالت څخه ډیر قوي ښکاره کړئ. که چیرې د پناه غوښتنې چارواکی ستاسو د نه صداقت او درغلۍ په باب وپوهیږي، ستاسو کیس به یوازې په همدې دلیل رد کړي. که چیرې تاسو له هغو شواهدو څخه چې په غوښتنلیک کې مو وړاندې کړي دي، متفاوت شواهد وړاندې کړئ، <u>او که چیرې نیټې، نومونه او نور معلومات د غوښتنلیک په پرتله ناسم او متفاوت وړاندې کړئ،</u> دا کار به ددې لامل شي چې د پناه غوښتنې چارواکی ستاسو د نه صداقت په باب پریکړه وکړي. <u>ډاډ ترلاسه کړئ چې خپل غوښتنلیک څو ځله ولولئ او د پناه غوښتنې په غوښتنلیک کې له ټولو ځوابونو سره ځان اشنا کړئ.</u>

- **د کېدوالی د مرکې په جریان کې د شواهدو د وړاندې کولو په باب عمومي مشورې:** داچې ډېره مهمه ده چې تاسو د شواهدو په وړاندې کولو کې صادق او ثابت اوسی، د پناه غوښتنې کارکوونکي پوښتنو ته د ځواب ورکولو پرمهال، دا لاندې مشورې په پام کې ونیسئ:
  - **"زه پوه نشوم".** د پوښتنې یا د ژباړونکي په خبرو د نه پوهېدلو په صورت کې، چاروکي ته خبر ورکړئ!
  - **"زه نه پوهېږم" :** که چېرې د پوښتنې په ځواب نه پوهېږئ یا د پوښتنې د ځواب په باب پوره ډاډه نه یاست، چاروکي ته ووایئ. ښه به وي چې د اټکل کولو پرځای ووایئ چې "نه پوهېږم".
  - **"زما په یاد نه دي".** که چېرې د کومې پوښتنې ځواب مو په یاد نه وي، چاروکي ته ووایئ چې ځواب مو په یاد نه دی او غواړئ چې اټکلي ځواب ورکړئ. که چېرې معلومات په هغه غوښتنلیک یا سند کې ترلاسه کېدی شي چې تاسو مخکې لیږلی وو، چاروکي څخه وغواړئ ترڅو تاسو ته اجازه درکړي چې خپل غوښتنلیک یو ځل وګورئ ترڅو د پوښتنې ځواب مو په یاد شي.
  - **یوازې هغې پوښتنې ته ځواب ورکړئ چې پوښتل کیږي!** ډېره مهمه ده چې یوازې هغې پوښتنې ته ځواب ورکړئ چې دقیقا د چاروکي له خوا پوښتل کیږي. له غوښتل شویو معلوماتو څخه د ډېرو معلوماتو له ورکړې ډډه وکړئ.
- **د مرکې فارمټ یا قالب:** ستاسو د پناه غوښتنې مرکه به یوه داسې مکالمه یا دیالوګ وي چې پکې به ستاسو او د چاروکي ترمنځ یو شمیر پوښتنې او ځوابونه تبادله کیږي.
  - **۱ برخه: د *I-589* فورمې مرور یا کتنه:** د مرکې په سرکې به د پناه غوښتنې کارکوونکی ستاسو I-589 فورمه وګوري. که چېرې تاسو غواړئ چې په دې فورمه کې وړاندې شوي معلومات اصلاح، اضافه یا توضیح کړئ، چاروکي ته خبر ورکړئ.
  - **۲ برخه: د هغې پېښې جزییات چې تاسو ورسره مخ شوی یاست او ولې تاسو له بیرته ستنیدنې ویره لرئ.** په بل ګام کې به د پناه غوښتنې کارکوونکی ستاسو په اصلي هیواد کې د هغه څه په باب چې تاسو ورسره مخ شوي یاست او داچې ولې له بیرته ستنیدنې ویره لرئ، یو شمیر پوښتنې مطرح کړي. دا معلومات باید د هغو معلوماتو سره همغږي وي چې مخکې مو په غوښتنلیک کې وړاندې کړي دي.
  - **۳ برخه: هو/نه امنیتي پوښتنې:** د پناه غوښتنې چاروکی به یو ډېر شمیر هو/نه پوښتنې مطرح کړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو به متحده ایالاتو ته د امنیتي خطر لامل نه کیږئ. د افغانانو په باب، دا پوښتنې په لاندې موضوعاتو تمرکز کوي: ایا تاسو یا ستاسو کورنی کله په افغانستان کې له طالبانو یا بلې وسله والې ډلې څخه مالي ملاتړ کړی دی، او ایا تاسو یا ستاسو کورنی کله وسله درلوده یا په پوځي روزنه کې مو برخه اخیستې ده، او داسې نورې ورته پوښتنې.
- **د غوښتنلیک لاسلیک کول:** چاروکی به له تاسو وغواړي چې غوښتنلیک او هغه بدلونونه لاسلیک کړئ چې د مرکې په لړ کې رامنځته شوي دي. ستاسو لاسلیک دا ښیي چې تاسو ژمنه کوئ چې هر هغه څه چې په غوښتنلیک کې ذکر شوي دي، ترهغه ځایه چې ستاسو له حافظې او درک سره تړاو لري، سم او ریښتیا دي.
- **د عارض میرمن یا خاوند او ماشوم:** که چېرې ستاسو میرمن یا خاوند او ماشوم ستاسو په غوښتنلیک کې د عارضینو په توګه شامل دي، هغوی هم باید د پناه غوښتنې کارکوونکي سره وګوري او د هغوی د مرکې فارمټ یا قالب به هم یو شان وي. اړوند چاروکی به ستاسو له میرمن یا خاوند څخه ستاسو ترمنځ اړیکي په باب پوښتنه کوي او له ماشومانو څخه به هم ځینې پوښتنې کوي. ددې پوښتنو هدف دا دی چې ستاسو او ستاسو د خاوند یا میرمن او ماشومانو ترمنځ اړیکه ثابته شي.
- **ارامه اوسئ او که چېرې استراحت، تشناب تګ یا اوبو څښلو ته اړتیا لرئ، چاروکي ته خبر ورکړئ.** که چېرې تاسو د مرکې په جریان کې عصبي یا ناارامه اوسئ، ستاسو مرکه به ستونزمنه شي او په ښه توګه به مخ ته نه ځي. مرکه به څو ساعته دوام کوي. ارامه اوسئ او که چېرې استراحت، تشناب تګ یا اوبو څښلو ته اړتیا لرئ، چاروکي ته خبر ورکړئ.

**<u>د مرکې په پای کې او وروسته:</u>**

- د پناه غوښتنې د چارو کارکوونکی به په هماغه ورځ ستاسو د پناه غوښتنې د غوښتنلیک په باب خپله پریکړه نه اعلانوي. نوموړی به تاسو ته ووایي چې ستاسو دوسیه به وګوري او خپله پریکړه به په لیکل شوی بڼه تاسو ته د لیک یا پوستي له لارې ولیږي.
- که چېرې اړوند چاروکی د پریکړې کولو لپاره لازیاتو اسنادو/معلوماتو ته اړتیا ولري، نوموړی به د اړینو اسنادو او معلوماتو لست تاسو ته درکړي او یا له مرکې وروسته به د لازمو اسنادو او معلوماتو لست تاسو ته د پوستي له لارې ولیږي.